څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# د علمي ـ څېړنيزې مقالې د ليکنې لارې چارې او ځانګړتياوې

# Ways and Features of Writing Scientific - Research Articles

**Prof. Mohammad Nabi Salahi**


## Abstract

The essay is the basic framework for writing. In her writing, the collection of resources alone cannot be accepted as research, she is the collection. A comprehensive study of these sources, in-depth analysis, evaluation, polishing of the material and drawing positive conclusions from them and giving a clear message to the readers is scientific research and vice versa. The best researcher in this field is the one who goes to great lengths to solve problems, difficulties and problems.

Numerous articles come to the offices of scientific and research journals for publication, but some are rejected by the magazine's reviewers, mostly because the researchers did not work hard enough or were careless in writing them. There may be several reasons for this, one of the reasons being that the researcher is not familiar with the method of writing a scientific-research article or the methods used in writing a scientific article. Does not follow the rules, so this article is intended to address this shortcoming.

**لنډيز**

مقاله د ليکنې اساسي چوکاټ دی. د هغې د ليکلو په برخه کې يوازې د منابعوراټولونه د څېړنې په نامه نه شي منل کېدای، هغه را ټولونه ده. د دغو سرچينو هر اړخيزه مطالعه، ژورتحليل، ارزونه، د موادو صيقل کول او له هغو څخه مثبته نتيجه اخيستنه او لوستونکو ته روښانه پيغام ورکول علمي تحقيق دی او برعکس يې غير علمي کار دی. په دې لاره کې بهترين څېړونکی هغه څوک دی چې هغه د ستونزو، ربړو او پرابلمونو په حل پسې، لالهانده وګرځي.

د علمي او څېړنيزو مجلو دفترونو ته ګڼ شمېر مقالې د خپرېدو لپاره راځي، مګر ځينې يې د مجلو د کتنپلاوو له خوا ردېږي، زياتره يې علت دا وي چې څېړونکي د هغو په ليکنه کې پوره محنت نه وي کړی او يا يې په بې پروايي سره د مجلې دفتر ته وراستولې وي، د ا کار ښايي ډېر علتونه ولري، يو دليل يې دا کېدای شي چې ياد څېړونکي ته يا د علمي . څېړنيزې مقالې د ليکنې لارې چارې ښې نه دي ور معلومې يا په علمي مقاله ليکنه کې پر هغو لاروچارو او اصولو باندې عمل نه کوي، له دې امله دا ليکنه پر دې منظور تر سره شوې ده چې دغه نيمګړتيا لرې شي.

## سريزه

علمي - څېړنيزې مقالې ځان ته ځانګړې چوکاټ، اصول او ځانګړنې لري. اوس دغه ډول مقالو ته ډېره اړتيا لېدل کېږي او ډېر څېړونکي علمي - څېړنيزې موضوعګانې د مقالو په بڼه ټولنې ته وړاندې کوي، نو يوه محسوسه اړتيا وه چې ځوانو څېړونکو ته وښودل شي چې څنګه علمي . څېړنيزه مقاله وليکل شي. همدغې اړتيا ته په کتو سره ما هم د خپل بحث موضوع د علمي . څېړنيزې مقالې د ليکنې لارې چارې او ځانګړتياوې انتخاب کړه.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې په پښتو ادبياتو کې د څېړنيزو ليکنو په ډېرو برخو باندې علمي . څېړنيز بحثونه نه دي شوي، نو اړتيا ده چې دغې مهمې برخې ته ځوان څېړونکي خپله پاملرنه راواړوي؛ په دغو بحثونو کې يوه مهمه موضوع د علمي . څېړنيزې مقالې ليکنه ده، نو زما د دغه کنفرانس اهميت او مبرميت هم په همدې کې دی چې د علمي . څېړنيزې مقالې ليکنې په لارو چارو او ځانګړنو باندې بحث لري.

## د څېړنې موخه

په دغه علمي . څېړنيز کنفرانس کې به د علمي . څېړنيزې مقالې په هغو لارو چارو باندې بحث وشي چې په علمي . څېړنيزې مقاله کې يې راوړل اړين وي، همدا ډول به د دغه ډول مقالو ځانګړنې هم په ګوته شي.

## د څېړنې پوښتنې

١. علمي . څېړنيزه مقاله څه ډول مقالو ته ويل کېږي؟

٢. د علمي . څېړنيزې مقالې چوکات او ځانګړنې کومې دي؟

او دې ته ورته ځينو نورو پوښتنو ته هم ځواب وايي.

## د څېړنې ميتود

په دغه علمي . څېړنيز کنفرانس کې له تشريحي- تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده.

### د مقالې متن

مقاله عربي کلمه ده، جمع يې مقالات راځي او لغوي معنايې خبرې کول(کړي)، رايه او نظريه وړاندې کول دي. په اصطلاح کې، هغه څېړنيزه ليکنه ده، چې د يوې ځانګړې موضوع په اړه ليکل شوې وي او په مستقله توګه، په ورځپانه، جريده او مجله کې خپرېږي.

مقالې ته، په انګليسي کې د آرټيکل (Article) او تحقيقي اثر ته ،چې علمي ترفيع پرې کوي، د تيزس(THESIS) او د دکتورا تيزس ته، د ډيسټريشن (Destritions) الفاظ استعمال شوي دي.

عبدالمالک همت، مقاله داسې را پيژني: ((مقاله په ځانګړې توګه هغې ليکنې ته وايي، چې د يوه علمي سند هيله من يې ليکي.)) (۱)

((دا علمي سند ( علمي ـ څېړنيزه مقاله) او په ټوله کې ((څېړنه که په هره برخه کې وي، بايد د يوه مشخص مېتود تابع وي. د څېړنې د مېتودونو خلاف څېړنه، ارزښت نه لري او څېړنيز کار له علمي اړخه بې باوره کوي !)) (۲)

د مقالې د جامع او هراړخيز تعريف وړاندې کول، تر اوسه پوري، زموږ له سترګو نه دي تېر شوی، په دې اړه ټول تعريفون، د نسبيت اصل تعقيبوي. مګر ټول پوهان په دې نظر سره اتفاق لري چې مقاله په نثر ليکله کېږي او زياتره لنډې وي، نظم او منظومې په مقالوکې نه حسابېږي. خو په هر حال، مقاله د ليکنې اساسي کالب دی. څېړنپوه زلمی هېوادمل د هند په نيمه وچه کې، د مقالې تعبير داسې راپيژني: ((په عامه محاوره کې وړې مقالې ته مضمون، منځنۍ ته رساله يا کتابچه او اوږدې ته کتاب وايي، معنا دا چې په دې سيمه کې د ليکنې اساسي چوکاټ مقاله بولي او د اوږدوالي، لنډوالي او حجم له پلوه د مضمون، رسالې او کتاب تعبيرونه ور ته کارول کېږي.)) (۳)

د مقالې کچه لږ تر لږه درې مخه منل شوې ده. د عبارتونو شمېر يې سل ښودل شوی، کله نا کله منځنۍ کچه او کله هم اوږده ښودل شوې، چې د کتاب کچې او اندازې ته رسېږي. دا يو دود او معمول بللی شو، مګر حتمي نه ده چې مقاله دې کچ کړو او هغه دې هرومرو درې مخه وي او د عبارتونو شمېر دې سل وي. دا شکليات دي. خلاق څېړونکی، ډېر خپل ځان د شکلياتو په قالب کې نه را ايساروي او ډېر کله، شکليات په ډېرې اسانۍ سره ماتېږي هم. بې له شکه، شکل په مضمون او مضمون په شکل باندې اغېز لري او دا اغېزې دوه اړخه دي. اصل خبره، د فرضيې په حل او د مسئلې په منځپانګه کې ده، په دې معنا چې مقاله بايد مقاله وي او نوښتګر (خلاق) څېړونکی، کوښښ کوي، چې په لنډو عبارتونو کې ، فرضيه ثابته کړي .

رحيم الله حريفال، د نورو پوهانو د څېړنو په استناد، د مقالې شرايط داسې راښيي: ((علمي مقاله عبارت ده له : هغه څېړنيز کارڅخه چې وړاندې له دې په هېڅ يوه ځای کې چاپ شوې نه وي او لومړی ځل دی  چې چاپېږي او په يوه وتلې مجله کې، د يوه اصلي مضمون په توګه خپرېږي.)) (٤)

نو که علم اوادب يوه شنه ونه فرض کړو، موږ او تاسې ددې شنې ونې په ربښه کې لګيا يو او که علم او ادب، يو ډېر لوی او ښه پراخ سمندر فرض کړو، نو موږ او تاسې يې په څنډو کې بوخت يو له دې امله، د هرې علمي او ادبي مسئلې ثبوت، ډېرې پراخې او هراړخيزې هلې ځلې غواړي. هره علمي مقاله خپلې لارې چارې لري ، چې يو څو يې دا دي:

۱. لکه څرنګه چې د هرې علمي ـ تحقيقي پروژې د ليکلو لپاره، له هر څه نه مخکې، د ډېرې مطالعې ضرورت وي چې ستونزه وپېژندله شي او د هغې د هوارې لارې چارې په ګوته شي، دغه راز، د يوې علمي ـ څېړنيزې مقالې د ليکلو لپاره هم، منظمه او سيستماتيکه مطالعه او يادښت اخيستل په کار دي، ځکه د يوه څېړونکي استعداد د موضوع له طرحه کولو او د هغه کمال، د کار له طرز نه معلومېږي. ((د څېړونکي له بنسټيزو دندو نه يوه دنده، د تر لاس لاندې څېړنيزې موضوع په اړه د سوابقو پلټل او د هغو څېړنه ده .)) (٥)

په دې برخه کې ویلی شو، چې د ناپېژندل شوې موضوع ټاکنه او د لیکلړ (فهرست) برابرول، د تحقیقي پروسې تر ټولو سخت او لومړنی پړاو دی. دا پېچلی پړاو، د څېړنیزې موضوع په اړه، د لیکوال په هراړخیزې مطالعې سره اسانه کېدای شي او نورو ته د هغې په اړه معلومات ورکول، ضروري او کټور ثابتیدای شي. ((پر څېړونکي لازمه ده، چې د موضوع ټاکنې پر مهال تخصص، مسلک، معلوماتي پانګه، امکانات او وسایل او له بلې خوا تر څېړنې لاندې موضوع علمي او ټولنیز ارزښت او نورو ته ګټه په پام کې ونیسي او د اړوندې موضوع په اړه، د نویو او زیاتو باوري معلوماتو په وړاندې کولو سره، د خلکو پوهه او معلومات ور زیات کړي.)) (٦)

" وړنهَر فون براون" په دې اړه داسې لیکي: ((زه بنستیزه څېړنه هغه وخت پیل کوم، چې په دې پوه نه شم، چې اوس نو څه وکړم.)) (٧) دا د علمي مقالې تر ټولو نه خوږه شېبه ده، چې د علمي مقالې او علمي اثر په پای کې، یوه پوښتنه را پور ته شي او لیکوال، د را ولاړې شوې پوښتنې، په علمي حل پسې لالهانده وګرځي.

نو ښه به دا وي چې موضوع راساً پیل شي او هغه د اروابښاد استاد څېړنپوه دکتور محمد رحیم الهام خبره چې: ((څېړونکی، باید پر موضوع  باندې مستقیماً برید(حمله) وکړي !)) (٨)

د (شولټز) په نامه یوه امریکایي پوه، په ١٩٦٠ز کال کې، د امریکا د سیاسي علومو په مجله کې تر دې عنوان لاندې، چې په ((ښوونه او روزنه کې پانګه اچونه)) یوه مقاله چاپ کړه. دې مقالې، په ١٩٦٢ز کال کې ، د نوبل جایزه وګټله. (شولټز) په دې مضمون کې دا تیوري بیان کړې وه چې د ښوونې او روزنې په ډګر کې د پانګې اچونې په برکت، څنګه یو تعلیمیافته انسان، چې ډېرې پیسې پرې لګېدلې وي او مختلف مهارتونه یې زده کړي وي، لکه یوه فزیکي او تولیدي کارخانه، خپل ارزښت پیدا کوي او د زیاتېدونکې پانګې د پیداکولو سبب ګرځي!

٢. د نویو ټکیو بیانول، په خپل ځای کې، ځانګړی ارزښت لري او باید دا سنجش شي، چې دا مقاله د راتلونکې له پاره څومره د استفادې وړ ده. یوه ښه مقاله باید، کم تر کمه یو نوی ټکی ولري او که دا نه وي، څېړونکی باید ددې وس ولري او د هر څه، مثبت او منفي اړخونه را وسپړي او په دې ډول، له پخوانیو څېړنوڅخه، یوه مثبته پایله تر لاسه کړی شي.

٣. که څه هم، په علمي ـ څېړنیزه مقاله کې، د علمي ـ تحقیقي پروژې د لیکلو په شان، د لیکلړ اړتیا نه وي، خو د تر لاس لاندې موضوع په اړه مطالعه کول، ضرور وي او په خپل ذهن کې، د مقالې لیکنې لپاره، د یوه مقدماتي چوکاټ طرحه، لازمي برېښي .

۴. د یوې علمي مقالې د لیکلو په برخه کې تر ټولو مهمه لاره دا ده چې لیکوال خپله بې طرفي وساتي، یواځې حقیقت، منحیث حقیقت بیان کړي او د حقیقتونو له بیان سره خپل جذبات ګډ نه کړي. نن سبا زموږ د څېړنو تر ټولو لوی عیب دا دی، چې له حقیقتونو سره خپل جذبات ګډوو. باید له حاشیه روي او اضافي خبرو نه پرهیز وکړو. موضوع یو څه وي، موږ بل څه بیانوو او یا د خپل ځان په اړه خبرې کوو. دا کار، زموږ علمي زیارونه، د ابتذال پر لور ټېله کوي. که څه هم، دا کار په سلو کې سل ممکن نه وي، خو په هر حالت کې د ربښتیا بیانولو خیال په کار دی. . حدیث شریف دی: ((هر کار چې کوئ، دقیق یې کوئ.))

۵. بل ټکی د مقالې حجم دی. بې ځایه ،یو مضمون سره کشول او نااړوند موضوعات ور سره ګډول، داضافاتو بیان دی او دا کار، د مقالې روڼوالي او شفافیت ته غټ تاوان رسوي. که مضمون د ضرورت له مخې لوی شي، بیا پروا نه لري.

۶. بل ټکی، د لیکوال له خوا، د مطالبو عالي افاده ده، چې دا کار ښه، کره او په تول تللې ژبه غواړي. د مطالبو پېچلتیا، په تحقیقي پروسه کې، ابهام او ګډوډې رامنځته کوي. د لیکوال د قلم ژبه، باید د لوستونکو له پاره د پوهېدو وړ وي. که مقاله عامفهه ولیکلی شي، لوستونکي په خپله پیدا کوي. داسې نه چې، یو لوستونکی یې ولولي او ووایي، چې مقاله مې ولوسته، مګر پرې پوه نه شوم. افغان فیلسوف اسد آسمایي وایي: ((زه له مرګه دومره نه ډارېږم، لکه یو څوک چې را ته ووایي چې زه ستا پر خبره پوه نه شوم!)) (۹)

۷. د کلمو، جملو او پرګرافونو تر منځ، باید یو شعوري او اګاهانه ،منطقي او تحقیقي نظم او همغږي او تعادل موجودوي. په کومه موضوع چې لیکوال رڼا اچوي، په هغې یې باور اوډاډ وي، د لوستونکي د تکامل سبب وګرځي او د هغه قناعت حاصل کړی شي.

۸. کره میتود ولري. په یوه علمي – څېړنیزه مقاله کې، هر څه د درک او پوهېدو وړ وي، یوازې هغه څواک د درک وړ نه وي، چې د هغې د لیکلو په برخه کې شوی دی. ۹. د علمي څېړنې هدف، د رښتیاوو معلومول او سم له ناسمو بېلول دي. واقعیتونه په خپله نه غږیږي، د څېړونکي منطق او استدلال، تحلیل او تفسیر ته اړتیا لري. ((تحلیل(Analysis) د څېړنې یو ډېر اساسي تکنیک دی. د څېړنې په هر پړاو کې، له تحلیل څخه کار اخیستل کېږي.(۱۰) په یوه تکنیکي مقاله کې، د تر لاس لاندې موضوع په اړه، د اثر شکل او مضمون ، مثبت او منفي اړخونه دواړه بیانول په کار دي او دا کار، په تحقیقي مطلب باندې، د لوستونکو ډاډ او باور زیاتوي.

۱۰. هره مقاله، باید په پای کې رغنده وړاندیزونه هم ولري او لوستونکو ته دا وروښيي، چې ما تر دغه ځایه را ورسوله، تاسې په دغه موضوع کې، په لاندې لوریو او استقامتونو باندې تلی شئ. بې وړاندیزونو څېړنه داسې وي، لکه یو څوک چې په یوه څلورلارې کې یو ماشوم ګوښی او یوازې پرېږدي او په خپله ځینې ولاړ شي او هغه حیران پاتې وي، چې اوس نو پر کومه خوا ولاړ شم.

د ډاکټر ګیان چند په نظر: ((د خاکې او ترتیب په اړه د څېړنپوهانو بېلابېل نظریات مخې ته راځي، دلته به دومره ووایو، چې د څېړنیزې مقالې د خاکې او ترتیب په هېڅ ډول اصول نه شي غوره کېدلی او هر لیکوال ځانته خپله لاره لري، خو بیا هم ځینې داسې لارې چارې شته دي، که کار ترې واخیستلای شي، نو ښه مقاله به ولیکلای شي!)) (۱۱)

## پایله

د علمي ـ څېړنیزې مقالې لپاره ځانګړې چوکاټ وضعه شوی دی، خپلې ځانګړنې او اصول لري، نو څېړونکي باید د علمي ـ څېړنیزې مقالې په لیکنه کې دغه چوکاټ او ځانګړنې په پام کې ونیسي؛ که چېرته دغه ځانګړنې په علمي ـ څېړنیزه مقاله کې په پام کې ونه نیول شي، نو له علمي معیار څخه غورځي او خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

## وړاندیز

ښه به دا وي چې زموږ ځوان څېړونکي په خپلو علمي ـ څېړنیزو مقالو کې نه یوازې د مقالې لیکنې لارې لارې چارې او اصول وپېژني، بلکې په خپلو څېړنیزو چارو کې پر هغو باندې عمل وکړي.

## مأخذونه


۱. عصمت، عبدالحنان. د څېړنيزې مقالې پېژندنه، کابل(مجله)، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز: ...، ۱۳۹٤ل کال، ٥١ مخ.

۲. همدم، مسعود. د لرغوني يونان ادبيات او پر پښتو ادب يې اغېزې، کابل، ۱۳۹٤ل کال، د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه، ٦ مخ.

۳. عصمت، عبدالحنان. د څېړنيزې مقالې پېژندنه، کابل(مجله)، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز: ...، ۱۳۹٤ل کال،۵۴ مخ.

۴. حريفال، رحيم الله. يوه علمي او څېړنيزه مقاله څنګه وليکو؟ زېرى (جريده)، ۷-۸مه ګڼه، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۱۳۹۵ل کال، ۲ مخ.

۵. حسن زاده، رمضان. روش تحقيق کار بردی، چاپ اول، مؤسسه نشر روان: تهران، سال ۱۳۹۲ خورشيدی، ص۱٤۷.

۶. هاشمي، سيدمحي الدين. د ادبي څېړنې پړاوونه، کابل(مجله)، درېيمه ګڼه، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۱۳۹٤ل کال، ۲مخ.

۷. هوما، يحيى. ګنجينه، (اثر چاپ ناشده )، ص ٤۸.

۸. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي، د پښتو ماستري تدريس په وخت کې، د استاد الهام له لکچر نه، له يو څو يادښت شويو ټکيو نه يومهم ټکى!

۹. صلاحي، محمدنبي. د ارواښاد استاد اسد اسمايي ياد غونډه، خاموش فيلسوف، تدوين او ترتيب: د علم ګل سحر، د اوښتون او علمي څېړندويې ټولنه: پکتيا، ۱۳۸۹ل کال، ۲مخ.

۱۰. روهي، محمدصديق. د څېړنې لارښود، دويم چاپ، د علومو اکاډمي د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز: کابل، ۱۳۸۵ل کال، ۳۱ مخ.

۱۱. ګيان چند، پرايم. د څېړنې فن، ژباړه: محبوب الله محبوب، سيمه ييز مطالعات (مجله)، کابل، لومړۍ ګڼه، د علومو اکاډمي د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز: ۱۳۸۸ل کال، ۱۲٤ مخ.